# افغانستان

# د قانون واکمني – تیوری او پراتیک

داکتر ط. پامیر

۵ دسامبر ۲۰۱۶

دافغانستان ټولنه (وګړي) له پخوا زمانې څخه د امیر، پاد شاه ( ټولواک)، د ټولواک له امر، فرمان، حکم، د شرعیت (امر ونهی)، دود – دستور، د کلمو په معنا او مفهوم پوهیږي. دغو ټولو سر چینو د تاریخ په اوږدو کې، په دغه یا هغه بڼه د ټولنې او وګړو سیا سي برخلیک او حقو قي وضعیت ټاکلی دی. له دې کبله، زمونږ په عامیانه او سیاسي فرهنګ او ادبیاتو کې د زور او زوره وَر، د ظلم، داد، حق اوعدالت کلمې هم ښَهٔ (بیګانه) نه دي خو، دقانون، قانونیت، مشروطیت، آزادۍ اوبرابرۍ، ولسواکۍ (دموکراسۍ) د ملت او ملي حاکمیت کلمې چې په امریکې او اروپا کې د ۱۸ مې او ۱۹مې پیړیو د بورژوازي انقلابونو او لیبرا لیستي خو ځښتونو زیږنده ده، د شلمې پیړۍ په لمړیو کې له بهر (خارج) څخه زمونږ دهیواد رسمي او دولتي ادبیاتو ته لار موندله .

د اعلیحضرت غازي امان الله خان د پاد شاهی په زمانه ( ۱۹۱۹ - ۱۹۲۹) کې مونږ په لمړی ځل د اساسي قانون څیښتن شوو. په دغه قانون کې د ملت او دملت دواکمنی ( ملي حاکمیت) مفاهیم او همدا شان دوګړو (هیوادوالو) د آزادی اوبرابری اصول تسجیل شول.

په ورستیو کلونو کې دافغانستان ددولتي نظام د بیا رغونې په بهیر کې د نړیوالې ټولنې د مخامخ ښکیلتیا له اغیزې د ځینو نورو اصطلاح ګانو لکه مدني ټولنه، ښه حکومتو لي تر څنګ د قانون د واکمنی اصطلاح هم ، زمونږ په سیاسي فرهنګ کې ځائ ونیو خو ددې ما نا دا نه ده چې دغه نوي له بهر نه راړول شو ې اویا راغلې نظریې او ارزښتونه زمونږ په ټولنه کې سم ( درست) پو هیدل شو ي، منل شوي او له ستونځو پرته پلي شوي دي.

د افغانستان خلک پوره یوه پیړی د مشروطیت او ولسواکی لپاره مبارزه کوي خو په دغه لار کې هر ځل، لمړني ګامونه له ماتې سره مخامخ شوي. د (۱۳۸۲) کال - د نو ي اساسي قانون له تصویب څخه را په د ې خوا زمونږ په ټولنه کې د قانون د واکنی داصل پلي کول د افغان دولت او نړیوالې ټولنې له لمړیتوبونو څخه ګڼل شو ي خو په عمل کې تر اوسه هم زور واکي ده (زور قانون دی).

ولې داسې ده؟

په دغه لیکنه کې هڅه کیږي چې زمونږ په هیواد کې د قانون دواکمنۍ پروړاندې پراته خنډونه اوستونځې را بر سیره شي خو لمړی اړینه ده پوه شو چې دقانون واکمنې څه ته وايي؟

د قانون د واکمنۍ اصطلاح له دوو بیلو کلمو قانون او و اکمنۍ څخه جوړه یوه ساده جمله اویا اصطلاح نه ده. دا د دولتي نظام اړوند یوه ځانګړې سیاسي – حقوقي او ټو لنیزه نظر یه ( Concept) ده چې ځینې حقوقپوهان یې سیاسي - حقوقي دکتورین هم بولي.

د قانون د وا کمنۍ اصطلاح په انګلو - ساکسن حقوقي سیستم کې له ( Rule of Law) څخه اخیستل شوې اوژباړل شوې ده. په رومن - جرمنیک حقوقي سیستم کې ددغه اصطلاح انډول د( Rechtsstaat) کلمه ده چې په پښتو ژبه کې د **حقوقي دولت** په کلمه ژباړل کیدای شي.

شک نشته چې د لغت له مخې د قانون د واکمنې سر چینه هماغه د قانون ( Lex ) کلمه ده چې د بشری ټولنې په تاریخ کې ډیرې ژورې ریښې لري چې د لرغونې زما نې حقوقي لاسوندونه (سرګډونه) لکه د حمورا بي قانون ( 1750 ق.م )، د مانو قانون (120—150 ق.م)، د ګروتین قانون (۶-۷ ق.م)، دوولس لوحه ایز قانون ( ۴۵۰-۴۵۱ ق.م ) او نور یې غوره بیلګې دي خو، د یوه سیاسي- حقوقي دکتورین په توګه د قانون د واکمنۍ اصطلاح په ۱۷ مه پیړۍ کې را بر سیره شوه او د آ تلسمې او

نو لسمې پیړیو په اوږدو کې یې د پو هاوي او منځپانګې له اړخه وده او تحول وموند.

پروفیسور دایسی (A.V. Dicey- 1835-1822 ) په خپل کتاب-
" The law of the Constitution - 1885" کی لیکي: دقانون
واکمي لمړی- د قانون دلوړتوب ( Supremacy of Law) او دوه یم-
دقانون پر وړاندې دوګړو د برابري ( Equality before Law ) په
معناده او دریم- داچې داساسي قانو ن عمومي اصول د حقوقي پریکړو پا
یله( نتیجه) ده چې په محکمه کي د اقامې وړ وي.
د پرو فیسور دایسی ( Prof.Dicey) په اند په قانون کې دوګړو لیکل
شوی حقوق هغه خت ارزښت مومي چې دمحکمي په پریکړو کې په
مناسب ډول د تعمیل وړ وي. نموړی، قضايي رویې ( د محکمې پریکړې)
ته د لیکل شوی قانون په نسبت رجحان ورکوي.

په ورستیو کلونو کې د قانون د واکمنۍ د نظریې د معنا او منځپانګې په اړه
یو لړ اړینې علمي څیړنې تر سره شو ې دي چې هم تیور یکي او هم عملي
ارزښت لري.

پروفیسور مورتیمر سلرز (Mortimer N.S. Sellers 1959) لیکي چې :

" د قانون دواکمنۍ د تعریف په اړوند باید چې وار له مخه څو ټکي په پام
کې ونیول شي: لمړی- داچې د قانون حاکمیت ( Rule of Law) د لاتیني

ژبې نه د قانون د امپراتورۍ ( Emperium Legum) د جملې انګليسي ژباړه ده. دا د تش په نامه **قانونيت** له چوکاټ څخه چې هلته يو کس، يوه ډله او يو ګوند د وضعي قانون له لارې خپله اراده پر نورو و تپي، و تَلی (لوړ) مفهوم دی؛

دويم- مونږ غواړو ، تر کومه بريده ( حد) چې شونې وي په ټولنه کې د دولتي چارواکو اراده ( لاس) له عدالت ( قضا) نه لرې وساتو- داسې چې هيڅ يو دولتي چارواکی (مشر) ، قانون جوړوونکی (قانونګذار)، قاضي اويا يو بل کس په خپلسرۍ سره داسې واکونه ونلرې چې دټولنې د ښيګړو پر وړاندې ګام پورته کړي؛

دريم- د قانون واکمنې دانسان له طبيعت څخه را وتلې ده ځکه چې ټول انسانان د قانون له لارې د عدالت په لټه کې دي؛

څلورم- يوازې د قانون واکمني کولای شي چې په ټولنه کې تلپاتې عدالت خوندي کړي؛

پينځم- ستره پوښتنه داده چې څنګه کولای شو د قا نون مونډل ، جوړول، تفسير اوپلي کول په داسې لاره (طريقه) تر سره شې چې قانون نه يوازې د عادي وګړو بلکه د دو لتي چارواکو کټې اوغوَ ښتنې کنترو ل او اداره کړي."

سلرز ، دپورتنیو ټکو په را غونډولو سره د جمز هرینګټن ( 1611-1677 )
او دامریکا د دوهیم ولسشمر جان آدمز ( 1735 –1826 ) خبره را اخلی او
لیکي چې: **د قانون واکمني د قا نون امپراتوري ده نه د افرادو.**

" **an** empire of laws **and** not of men "

سلرز زیاتوي : "کله چې موږ داسي یو حقوقي (دولتي) نظام ولرو چې
عامه ګټو او په ټولیزه توګه د ټولنې ګټو ته خدمت وکړي، هغه وخت موږ
د قانون وا کمني لرو ځکه چې قانون واکمن دی نه افراد ؛ موږ آزادي لرو
ځکه چې قانون د ظلم او اسبداد مخه نیسي؛ موږ په جمهوریت کې ژوند
کوو ځکه چې دولت عامه ګټو ته لمړیتوب ورکوي؛

**د قانون واکمني، آزادي او جمهوري دولت د ریښتینو عامه ګټو درې اړخونه (فاکتورونه ) دي**؛ کله چې وضعي قوانین ( Positive Law) د هغوئ
تعبیر او پلي کول (اجرا) عامه ګټو ته خدمت کوي، د یوه فرد او یا د افرادو
د یو ې ډلې د واکمنۍ مخه نیسي، هلته موږ بشپړه او په ښه ټوګه د قانون ا
مپراتوري (Imperium Legum) لرو."

- د قانونی د واکمنۍ د کانسپت د تعریف، منځپان ګې او د پلي کیدو د
څرنګوالي د څیړنې او ارزونې په مخه د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په میاشت

کې د روسیې په پلا زمینه ماسکو کې د نړۍ د آتو ( ۸) هیوادونو د پیژندل شویو حقوقپو هانو په ګډون یو علمی سیمپوزیم جوړ شو.

د سیمپوزیم برخه والو د حقو قي دولت او دقانون دواکمنۍ د کانسپتونو تاریخي مخینه ( پیشینه) ، د رومن – جرمنیک او انګلو- ساکسون په حقوقي سیستمونو او همدا شان د رو سیې په حقو قي سیستم کې ددغو کانسپتونو د معنا او پو هاو ي په هکله مقالې ولوستې، هر اړخیزه خبر ې اترې او بحثونه یې وکړل. د سمپوزیم د برخه والو لیکنې او څیړنې " په اوسنۍ نړۍ کې د قانون دواکمنۍ او حقوقي دولت دکتورین " تر عنوان لاندی په روسي ژبه-

“ **Доктрины правового государства** и **верховенства права** в **современном мире** ”

چاپ شوي او آنلاین هم خپرې شوې دي.

د سمپوزیم د برخه والو په اند، د قانون دواکمنۍ ( Rule of Law ) او د حقوقي دولت ( Rechsstaat) نظریې چې په بیلو حقوقي کلتورونو کې ( Commen Law ) او ( Continental Law) کې را منځه ته شوې، په اوس وخت کې د ځینو ځانګړتیاوو او یو شان نه پوهاوي له ستونځو سره – سره د خپلو منځپانګو له اړخه یو له بل سره ډیرې نیږدې شوې او یو په بل کې د ور ګډیدلو ( استحالې) په لور وده کوي.

- د نویوال عدالت پروژې ( World Justice Project ) هم د قانون د واکمنۍ دنظریې په هکله یو لړ ځانګړی او ژورې څړنې کړي او دنړۍ په ملکونو کې یې د قانون د واکمنۍ د څرنګوالي په اړوند یو لاربښود (شاخص) جوړ کړی دی. ددغه خپلواک بنسټ په اند، د قانون واکمنې داسې یو سیستم (نظام) دی چې هلته لاندې څلور عمومی اصول رعایت کیږي:

١- دولت ، دولتي چارواکي او کارکونکي، فزیکی او حقوقي شخصیتونه دقانون په وړاندی ځواب ویونکي دي؛

٢- قوانین روښانه، خپاره شوي او ثابت دي، یوشان پلي کیږي؛ د بنسټیزوحقونو اوپه هغه لړ کې د افرادو د امنیت ، شتمنۍ (ملکیت) او بشر د اساسي حقونه ساتنه کوي؛

٣- د قانون د تصویب، مدیریت او پلي کیدو بهیر د لاس رسي وړ، روڼ (شفاف) او معقول دی؛

۴- عدالت پر خپل وخت، د صلاحیت لرونکو، اخلاقی (نیکو)، خپلواکو او بې پری استازو له لوري وړاندي کیږي (اجراکیږي) چې په کافي شمیر او مناسبو امکاناتو سره شتون لري او دټولنې دجوړښت ښکارندوی( آینه) دي.

د نړیوال عدالت پروژې د نړۍ په ملکونو کې د قانون دو اکمنۍ د ارزونې په مخه یو لاربنود ( Rule of Law Index ) هم جوړ کړی دی. په دغه ایندیکس کې ( ۹) اساسي اویو شمیر فرعی(تکمیلي) فاکتورونه په پام کې نیول شوي دي (تړاوی وګورئ).



- د قانون دواکمنۍ په اړوند د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې هم یو ګډ نظر ( Consensus ) را منځ ته شوی دی.

په ۲۰۰۴ کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان سر منشی د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته  په جنګ ځپلو هیوادونو کې د قانون د واکمنۍ او انتقالي عدالت په هکله د خپل رپوټ په یوه برخه کې وویل:

" د قانون واکمني د دولتي اداري داسي یو نظام دی چې هلته ددولت په شمول ټول وګړي، دولتي او خصوصي بنسټونه، سازمانونه د قانون تابع دي؛ قانون په خپل وار، خپریږي، په مساوی ډول او یو شان پر ټولو تطبیق او دیوې بې پرې محکمې له خوا پلي کیږي ؛ قانون، دبشر د حقونو په برخه کې له نړیوالو معیارونو او نورمونو سره سمون لري؛

دقانون واکمنې د قا نون د لمړیتوب، د قانون پر وړاندې د برابرۍ، دقانون پر وړاندې دحساب ورکولو، دقانون په پلي کولو کې د بې پریتوب (بیطرفي)، د واک د ویش، په پریکړو کې    د خلکومشارکت، حقوقي ډاډ منې ، د خپلسرۍ مخه نیولو او همدا شان د یوه رڼه ( شفاف) حقوقی بهیر(پروسیجر) داصولو غوښتنه کوي. "

د قانون دواکمنۍ د کانسیپت په اوړند له پورتني بحث څخه د ناسم پو هاوي د مخنوي لپاره غواړم  دلته، څو اړینو ټکو ته د لوستونکو پام را وګرځوم:

لمړی: دقانون د واکمنۍ نظریه د ولس دواکمنۍ (ملي حاکمیت) د نظریې ځائ نه نیسي او له ولسواکۍ سره په ټکر کې نه ده. په یوه دموکراتیک دولتي نظام کې واکمني (حاکمیت) په ټولیزه ټوګه او هرو - مرو په ولس (خلکو) پورې اړه لري. قانون دولس له ارادې اوحاکمیت څخه لوړ نه دی. په قانون کې د ولس اراده را نغښتي؛ د ولس له ارادې څخه مشروعیت اخلي او دولس د ارادې د تعمیل اغېزمنه وسیله ده.

دویم: قانون یومقد س کتاب او یا داسې کو م څیز نه دی چې تعظیم شي اوبس. قانون د ولس د ښیګڼو او ګټو د خوندي کولو لپاره جوړیږي چې د ټولنې اونړۍ له حا لاتو سره سم په تغیر اوتحول کې دي. قانون باید د زمانې غوښتنو اود ټولنې اړتیاوو ته ځواب ووایي او د پرمختګ لاره پرا نیزي.

په قانون کې هر وخت تغییر اوتعدیل را تلای شي خو دا تغیر او تعدیل باید دټولني دښیګړو په مخه او د ولس د استازو له لوري صورت ومومي نه د یوه کس، یوې ډلې، دولتي چارواکو او سیاسي محورو (ایلیت) د ارادې او ګټو پر بنا. قانون کېدای شي چې د یوه کس او یوې ډلې دواکمنۍ او استبداد وسیله وي او دټولنیز پر مختګ خنډ و ګرځي.

دریم: په ټولنه کې دقانون شتون او اود قانو پلي کول یوازي، د قانون د واکمنۍ په مانا نه دي. دقانون واکمني یو ولسواک دولتي نظام دی چې قانون یې یو له غوره فاکتورونه څخه شمیرل کیږي.

څلورم: په ټولنه کې دقانون شتون اړین (ضروري) دی خو بس (کا في) نه دی. قانو ن پخپله، با ید معقول،دمو کراتیک، عادلانه اولار پرانیستونکی وي.

نن، د قانون د واکمنۍ نظریه په هغه منځپانګه سره چې د نړیوال عدالت او ملګرو متونو په لاس وندونو (اسنادو) کی راغلې ده، د نړۍ په ډیرو ملکونو کې منل شوي او په ملي قانون کې تسجیل شوی ده خو ددغه نظر یې د بشپړ پلي کیدو څرک یوازې د څو کوتو په شمار هیوادونو په دولتي نظام کې تر سترګو کیږي.

دافغانستان د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې له تیوریکي اړخه د قانون د واکمنۍ ټول اړین عناصر او فاکتورونه ځای پر ځای شوي. د آساسی قانون د سریزې په یوه برخه کې را غلی چې:

مونږ د افغانستان خلکو،

" د خلکو پر اراده او د موکرا سۍ ولا ړ نظام د تأسیس لپاره ؛ لـــه ظلـــم، اســـتبداد، تبعـــیض او تـــاوتریخوالي پـــاکې، پرقانونیـــت،

اجتماعي عدالت، د انساني حقوقو او کرامت پر خوندي تا به و لاړې مدني ټولنې د جوړولو او دخلکو د اساسي حقوقو او آزاديو د تأمين په منظور؛ د هېواد د سياسي، اجتماعي، اقتصادي او دفاعي بنسټونو د پياوړي کولو لپاره؛ ددې خاورې ټوولو او سيدونکيو ته د يو هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپيريال د تأمين په منظو ر؛... دغه اساسی قانون د خپلو استازيو له لاری.....تصويب کړ."

په اساسي قانون کې واکمنې (حاکميت) په ملت (ولس) پورې اړه لري. دواک د ويش، دقضا يي نظام بې پريتوب، دقانون او قضا پر وړاندې دوګړو د برابرئ، دوګړو د اساسي آزاديو او حقونو د خونديتوب اصول ټول په دغه اساسي قانون کې را نغښتي دي خو، دا ټول د کاغذ پر مخ دي. په عمل کې د قانون دواکمنئ په لور ډير او د پام وړ پر مختګ نه دی شوي. ددې لاملونه ډير دي:

**لمړی** - داچې نړيواله ټولنه دافغانستان خلکو ته دواکمنئ (حاکميت) په ليږدولو کې پاته راغلې ده؛ واک اوس هم د جګړه مارانو، جګړه مارو اوتنظيمي ډلو ټپلو په قبضه کې دی؛

**دويم** - نوي، تش به نامه دموکراتيک بنسټونه کمزوري او په فساد ککړ دي.

**د رییم** - د خلکو د حقونو  او آزادیو نه د دفاع او ساتنې بنسټونه مسلکي چلند نه لرَي؛ پولیس په فساد او جرمونو کي ښکیل دي. څا رنوالان او قاضیان دحکومت او زور واکانو تر اعیزې لاندی او په لوړه شمیره په فساد ککړ دي.

د روان کال د لندئ د میا شتې په پینځمه نېټه د ولسشمر لمړي مرستیال جنرال دوستم له خپلې رسمي دندې نه بهر د یوه پخواني جګړه مار په ټوکه، د جوزجان ولایت یو اوسید و نکی ملکي کس د وزلوبې په ډګر کې له وهلو ټکولو وروسته په خپل شخصي جیل کې وا چاوه. له دې پیښې ټول عالم (ټوله نړئ ) خبر شو خو دافغانستان امنیتی او عدلي بنسټونو نه یوازی داچې خپل غوږ ونه ګراوه بلکه د جنرال دوستم د سپیناوي لپاره یې بر هغه مظلوم کس له یوې هفتې چوپتیا وروسته د دولت د مخالفینو دتمویل بې بنسټه او نا رسمي تور پورې کړ.

دا دی هغه کس ( احمد ایشچي) له ۱۶ ورځو بند او نا مالوم برخلیک وروسته د سیمې د خلکو په ننواتي او عفو غوښتنې ! سره له جیل څخه را وایستل شو. آیادولت به اوس د اساسي قانون د ( ۵۱ مې ) مادې پر بنا، د آزادئ څخه د ښاغلي ایشچي د بې موجبه بې برخې کولو تاوان وکالي ؟ او که " هم م ړ- هم پړ " د احمد ایشچي پیښه زموږ په ټولنه

کې د قانون دواکمنۍ او دقانون پر وړاندې د وګړو دبرابرۍ داصل یوه لویه آزموینه ده.

د اساسي قانون په ۵۱ ماده کې را غلي چې:

"هر څوک چې لـه اداري ( د دولت له اداري) څخه بې موجبه زیـانمن شـي د تـاوان اخیسـتلو مسـتحق دی او کـولای شـي د تـاوان د ترلاسـه کولـو لپـاره پـه محکـمه کـې دعـوا اقامه کړي"

**څلورم** – زمونږ په ټولنه کې د قانون، نویو ارزښتونو او سنت تر منځ ټکر او نا هم غږي.

**پنځم**- په ټولنه کې د ولسواکۍ (دموکراسۍ)، قانون ته د درناوي او رعایت د فرهنګ ډیره ټیټه کچه.

**شپږم**- زمونږ د ټولنې - دخلکو لخوا د فساد زغمل؛ په فساد روږدوالی.

**اووم**- په ټولنه کې د تاوتریخوالي او زور زیاتي ناوړه فرهنګ.

**آتم**- له قانون څخه بي خبري. دقانون د جوړولو په بهیر کې د ولس نه شریکول. د قانون نه خپرول؛

**نهم**- د قانون دوه ګونتوب (دوګانګی)؛

**لسم**- جګړه؛ ددولتي واکمنۍ نیمګړتیا او کم زوري؛

**یو لسم** - ټولنې ته ددولتي خدمتونو په وړاندي کولو کې د حکومت ناکامي اوبې وسي؛ پر دولت او قانون باندې د خلکو بې باوري؛

**دوولسم**- د ملک اقتصادی – ټولنیز اوفرهنګي ورسته پاتې والی؛ د عمومي او په ځانګړې توګه، د حقوقي معارف ډیر ټیټه کچه او د لسګونو نور سترو او وړو ټولنیزو نا خوالو او بد مرغیو شتون.

د حل لار څه ده؟

ساده ځواب خو دادی چې د قانون دواکمنۍ پر وړاندې پراته خنډونه چې ځینې یې پورته په ګوته شول لرې شي خو، څرنګه؟ ایا ددغو ټولو ناوړه لا ملونو لرې کول په یو وار ، د یوه فرمان اویا قانون پر مټ او یا د قهر (زور) له لارې شونې دي؟

زما په اند په ټولنه کې د قانون دواکمنۍ بشپړېلی کیدل (تحقق) یو بهیر (پروسه) دی چې باید له یوه ټکي او یو

ځای څخه پیل ، پر له پسې او په " هدفمند " ډول پر مخ بوتلل شي. د قانون د واکمنۍ د پلې کیدو لپاره دغه دپیل ټکی یا لمریتوب، په ټولنه کې د دولتي واک دموکراتیک هواری (حل) دی. دموکراتیک حل دادی چې واک (حاکمیت) په ریښتنې ټوګه د رښو، ټول شموله او سر تر سري ټولټاکنو له لارې ولس( ملت ) ته ولیږدول شې. ملت محوره سیاست غوره او په واک کې دقومي اوسیاسي ډلو ټپلو دونډې دود ته د پای ټکی کیښودل شي. ملي فکر وهڅول شي او ملي بنسټونه غښتلي شي. په نړۍ اوهمدا شان زمونږ په ملک کې د ورستیو کلونو د قومي او تنظیمي واکمنۍ تجربه ښیي چې په قومي نظام کې د قانون د واکمنۍ یو تر ټوله غوره او ټاکونکی اصل یانې د قانو پر وړاندې د وګړو د برابرۍ اصل تحقق نشي

موندلای؛ دیوې بې پرې دولتي اداري جوړول نا شوني دي.

په ټولنه کې د قانون د واکمنۍ پلي کول یوازې د دولت دنده نه ده. اړینه ده چې په لمړي سر کې دټولنې سیاسي او روڼ انده قشر زمونږ په هیواد کې د یوې آزادې، پر قانون او عدالت ولاړې مدني ټولنې د جوړیدو په کار کې خپل تاریخي رسالت او مسوؤلیت پر ځائ کړي. پا ي

په دغه لیکنه کې له لاندې آنلاین کتابونو اوسر چینو څخه کټه اخیستل شوې ده:


-J.Adams-Thoughts On Government ( 1776)-

-A.V. Dicey- The Law of the Constitution 1855.p.120

**M.N.S Sellers .The Rule of Law in Comparative Perspective (2010) ;** “What is the Rule of Law”

-James.R. Silkenat- The Legal Doctrines of the Rule of Law and the Legal State (Rechtsstaat) 2014

-Доктрины правового государства и верховенства права в современном мире –M 2013

-Un-The rule of law and transitional justice in conflict and post-conflict societies. ( s/2004/606)

/- http://worldjusticeproject.org

د ۲۰۰۴ کال د افغانستان اساسی قانون